

عبدالغفورليوال

# له نوښتګر شاعر، ليکوال، څېړنوال او  ادبپوه ښاغلي او منلي عبدالغفور ليوال سره په زړه پورې مرکه

## مرکه وال : انجنير عبدالقادرمسعود

زموږ درنو ليکوالو او د لوړ قلم خاوندانو له اوږدې مودې راهيسې د عيني حوادثو او پېښنو په اړه داسې کيسې، داستانونه او رومانونه ليکلي دي ، چې د خلکو په ژبه ډېر ساده خوندور او په ډېر ظريفانه بڼه انځور شوي دي. دا علمي او ادبي اثار اوسنيو او راتلونکو

نسلونو ته د میراث په توګه یوه ستره شتمني او پانګه ده چې د دغو اثارو معنوي ، هنري او ادبي ارزښتت د خورا ستاینې او درنښت وړ دي.

اروابښاد علامه محمود طرزي وايي :

(یو اولس په ژبه او ژبه په ادبیاتو ژوندی پاتې کیږي.)

دا ربښتیا ده چې ژبه او ادب د هر ملت شتمني ده، او ډیرګټور او ارزښتمن میراث دی، چې باید زموږ هیوادوال د یو ښکلي او لاربښوونکي هنري اثر په توګه لکه یو ګلبڼ ورته همیشني پاملرنه وکړي، چې له نیکه مرغه زموږ نامتو عالمانواو پوهانو، پیاوړو ادیبانو او نوښتګرو شاعرانو او لیکوالو په دې برخه کې نه ورکیدونکي، نه هیریدونکي او تل پاتې هلې ځلې ترسره کړې دي.

زموږ د پښتو ادب او فرهنګ په ډګر کې ښاغلی عبدالغفورلیوال هغه تکړه شاعر، لیکوال ډیرکاری څیړونکی دی چې د پښتو ژبې او ادب د علمي زیرمې د زیاتولو په خاطر یې په ورستیو کالونو کې د خپلو ګټورو او ارزښتناکو اثارو په وسیله د پام وړ ګامونه اوچت کړي دي.

- زموږ دهیواد پیاوړي ژبپوهاند او ادبپوهاند استاد پوهاند دوکتورمجاور احمد زیار په خپله یوه لیکنه کې د ښاغلي لیوال صاحب د علمي او ادبي شخصیت په اړه داسي کښلي دي:

((غفور لېوال د پوهې او فرهنګ په غبرګو مورچلو کې :

خبره یوازې پر دې نه ده چې ځوک دې هممهاله د پوهې او فرهنګ په دوه درو یا څو ځانګو کې خپل اندو واند و ازمایي او خپلې ټولنې ته یې خومره یېبرې او برياوې وړاندې کاندې.

هسې خو مو له تېرې نیمې پیړۍ راهیسې داسې ډېر پوهیالان او فرهنګیالان ولیدل او لایې وینو چې له څوځو ځانګو او ښرانګو یې غیرې راچاپېرلې او پنډ پنډ لیکنې څیړنې او پنځونې یې په سترګو کې رانه ایستي دي.

آره او رښتیني خبره پرځرنګوالي، او بیا د چا فیلسوف پردې وراشه راځرخي چې د وګړو پر اندو واند یې څومره اغیز ښندلی او له همدې لارې یې د ټولنې په یون او بدلون کې څنګه او څومره ونډه اخیستې ده!

په دې توګه، کله چې د نوي ژمن پښت  وتلي او  ښه تراځلېدلي استازګر عبدالغفور لېوال ادبي- شعري او بيا پوهنيزې- څېړنيزې هاندو هڅې او برياوې د ارزونې ترککوين لاندې نيسو، نو هماغه آره او رښتيني خبره  په زغرده رازبادوي.

ښايي، د رسنيو او په تېره، د  نړيجال له لارې ډېر ښاغلي او اغلې لېوال  تش د يوه نوښتګر شاعر په نامه وپېژني او د يوه اکاډېميک ادبپوه په توګه يې ليکنې څېړنې دومره ترسترګو شوې نه اوسي.

لېوال بې له شک واړنګه هماغسې  يې چې د اوږدو حماسي-کيسه يې، لنډو عاطفي غزلواوازادوانځور يزو شعرونو سيالان  تر ګو تشمېر تېرى نه کوي ، دغسې يې لړو ډېرې څانګپوهيزې(ادبي) څېړنې هم په توله ماناد نومهالي لارولېلې، څېړندود و مېتود پر تله پوره څېژي.

زه پر خپل وار له  ګران او  هڅاند فرهنګيال انجنير مسعود ډېر مننډوى يم چې  له تولمنلي ليکوال او څېړنوال سره يې د دغه دويم(انديز) مورچل په تړاو په زړه  پورې

ښتنې پوښتنې رامخته کړې او  هغه هم په تول تللي او ګټور ځوابونه راغبرګ کړي دي.

د دواړو درنو ستو مننډوى زيار))

د ښاغلي استاد پوهاند زيار صاحب د ليکنې  په لاسوند په دې کې شک نه شته چې د ليوال صاحب په ادبي – شعري ، پوهنيزو او څېرنيزو اثارو کې د پام وړعلمي او هنري نوښتونه او ارزښتونه نغښتي دي. د ده اثار معنوي ارزښت، ادبي او شعري جوهر لري.
ده پر خپلو ګټوروعلمي، ادبي او هنري اثارو د پښتو ادب ګلبڼ شيرازه، سمسور او رنګين ساتلى دى.

- ښاغلى صديق کاوون توفاني ، چې زموږ  د هيواد په  ادبي او فرهنګي ډګر کې وتلي او پيژندل شوې  ليکوال او شاعر دى،  په خپله  يوه ليکنه کې  د ليوال صاحب  د ادبي او فرهنګي شخصيت  په اړه  داسې کښلې  دي :

((.... د جنګ او جنايت کلونه وو. پر زخمي او غم زپلې ځمکې د اور او وينو نه تم کېدونکى زورور باران په وريدو و. زموږ د شعر او ادب حاصل خېزه سيمه په يوه ښوره زاره تاپو اوښتې وه چې تا به ويل نور به هلته نه وزمه وچلېږي او نه به مړاوې شوې او رژېدلي غوټۍ بيرته بيا ښېرازې شي .

له حجرو او دېرو څخه د منګي او سېتار نغمې نه پورته کېدې . ګودرونه له منګيو او جنوکيو خالي وو، په تشو او شاړو کوڅو کې يوازې وحشي بادونه چلېدل او د وينو او باروتو تند او زړه بوږنونکی بوی يې خپراوه.

خو لکه چې ښکاره ده چې د انساني ژوند تل خوځنده کاروان له سکون او سکوت ... سره نه جوړيږي او د تاريخ هېڅ کوم کنګليز ژمی د پسرليو د راتګ مخه نشي بندولای ، د جنګ او جنايت په هماغو کلونو کې او پر هماغه زخمي او غم زپلي ځمکه يو ځل بيا رنګين ګلان راوټوکېدل . جنګ ، جنايت او کرکې ته يې « نه » وويل ، د مينې خدای ته په لمانځه ودرېدل او په خپلو اميد ښونکو عطرو يې غم زپلي زړونه او مړاوي ذهنونه بېرته تازه کړل.

يو له همدغو ښکلو او رنګينو ګلانو څخه هم ، عبدالغفور لېوال دی چې د اوسني پښتو شعر او ادب د بڼ په سمسورولو او ښېرازولو بوخت دی.

د لېوال شاعري ، هنري شاعري ده ، له تخيله ډکه شاعري ده او د انځورونو او ... سمبولونو شاعري ده.

کله چې موږ د هغه د شعر او شاعرۍ نړۍ ته ورننوزو ، متوجه کيږو چې رمزونه او سمبولونه له موږ سره خبرې کوي او موږ رابولي چې په دغه نړۍ کې يوه شيبه تم شوو او هره پديده په ځير او دقت له نظره تېره کړو . شعريت احساس کړو او خوند ترې واخلو.

لېوال په خپل شعر کې له کلماتو سره لوبې نه کوي ، بلکې هر توری او هره کلمه ، هر سمبول او هر نماد پر خپل ځای کاروي . د هغه شعر يوازې د ښکلو منځتشو تورو اوډل نه ، بلکې په هنري ژبه د يوې شتمنې منځپانګې وړاندې کول دي.

له دې سره سره چې د ښاغلي لېوال غزل او په ټوليز ډول په کلاسيک چوکاټ کې د هغه شاعري ، ښکلې او په زړه پورې ده ، خو زما په اند ، د نوموړي آزاده شاعري ځانګړی رنګ او خوند لري او موږ ته د پښتو د آزاد شعر ، د پښتو د نوي هنري شعر د لا بډاينې او غوړېدنې زېرى راکوي .))

- د ليوال صاحب په علمي، ټولنيزو، سياسي او ادبي اثارو کې د هيواد او هيوادوالو سره ژوره مينه، د خلکو، ټولنې او ټولنيزو اړيکو په بيلابيلو برخو کې، احساس، عواطف، جذبات، سپيڅلې هيلې او انساني ارمانونه له ورايه معلوميږي، چې د هر دردمن او با احساسه لوستونکي او اوريدونکي په زړونو کې د دغو اثارو په لوستلو د سپيڅلې مينې او معنوي غوښتنو ولولې راپاروي.

ـ ښاغلي ډاکتر صاحب ببرک ارغند چې زموږ د هیواد یو نامتو ژورنالیست، نوښتګر او مخکښ داستان لیکونکې دی، په خپله یوه لیکنه کې د لیوال صاحب د علمي، ادبي شخصیت په اړه داسې وایي :

((.... رونِدِ آفرینشِ پدیده های علمی- ادبی در سرزمین ادب خیز ما - با در نظر داشت حرکت زمان ، اوضاع جهان وگلوبالیزم و با وجود شرایط خفقان آور و دشواریهای سیاسی ، اجتماعی و فرهنگیی حاکم بر کشور - به همت و کوشش فرزانه گان وطن همچنان بالنده و پویاست و خامهٔ آفرینشگران ما توانا و پر رنگ.

شهروندان ما میدانند و آگاهند که در اثر جنگهای خانمانسوز و تحمیلی در کشور، بخشی عظیمی از سرمایه های بشری ،علمی و ادبی ما ، دسته دسته و خرمن خرمن به آتش کشیده شدند ویا با بیرحمی تمام زیر توده های خاک مدفون گشتند ، اما مقاومت و ایستادگی مردم در برابر وزش این سمومی توفنده هیچگاه پایان نگرفت . آفرینشگران و قلم بدستان ما با درک رسالت تاریخی خویش دوشادوش هم بخاطر حراست از ادبیات وپویایی آن گامهای بزرگی برداشته و بر میدارند که قابل بزرگداشت و تبجیل اند . یکی ازین فرزانه گان هم جناب عبدالغفور لیوال است.

در بارهٔ خلاقیت ادبی و هنری جناب عبدالغفور لیوال باید گفت که - همان گونه که در نوشته یی یاد آور شده بودم - موصوف آثارش را همیشه با یک تازه گی ، جنبش و تحرک عرضه میدارد واین جنبش وتازه گی را با چنان واژه ها ، تصاویر و زبان مستحکم وروان می آمیزد که خیلیها دلنشین میشود.

واضح است که تمام اعمال ، اندیشه ها و احساس انسانها به شکلی از اشکال با زنده گی و جامعه یی که درآن میزیند پیوند ناگسستنی دارد . در واقع خودِ زنده گی ، همانا اقتصاد و سیاست و فرهنگ آدمهاست. همینهاست که افکار و اعمال و احساسهای انسان را شکل میدهند و نویسندهٔ روشنگر و ریالیست میداند که نه تنها در مقام تفسیرگرِ واقعیت و بیانگر وضع قرار دارد بلکه در برابر آن به اعتراض هم بر میخیزد . نویسندهٔ ریالیست میداند که سیاست و هنر پشت و روی یک سکه اند و به این خاطر وظیفه اش مهم و خطیر.

جناب عبدالغفور لیوال با درک سالم از هستی و واقعیت ، جهت سهیم شدن در سمت وسو و مسیر دادن جریانهای علمی و هنری در کشور- با وقف شباروزی و خلق آثار گران قدر – همسان سایر اندیشه ورزانِ رسالتمند سعی و تلاش دارد تا علم وادب در کشور از نفس کشیدن نیفتد و به گژ راهه گام نگذارد .این دانشمند فرهیخته ، مسؤولانه به شگافتن درد های جامعه میپردازد ،با شکیبایی در کنار مردم و بخاطر سعادت

ایشان  مینویسد و زنده گی را  رنگینتر میسازد .  ایشان در نوشته ها و پژوهشهای علمی و فلسفی  خویش  آنچه را حق تشخیص میدهداز بیانش نمیهراسد ، به سود و صلاح جامعه میگوید و به  خوشبختی و نیکبختی مردم چشم دارد و   صواب را از نا صواب صبورانه سوا  میکند . خوب میاندیشد و خوب مینویسد.

همانگونه که نقل قول آورده بودم لیوال  زنده گی را بوسیلهٔ قلم بر کاغذ جاری میسازد عمرش طولانی باد .))

سره له دې چې ما د ښاغلي لیوال صاحب سره څه موده د مخه د شعر  او شاعرۍ په اړه بشپړه مرکه کړې ده ، خو دا ځل د یو شمیر درنو ادب پالو په  وړاندیز او سپارښتنه  د پښتو ژبې د داستاني ادبیاتو په تړاو یوه ادبي مرکه نیولې ده چې ستاسو د ادب مینه والو پام ورته را اړوم.

ګران لیوال صاحب اجازه راکړئ خپل سلامونه او پیرزویني ستاسو درنه حضور ته وړاندې او خپلې پوښتنې پیل کړم.

قدرمن مسعود صاحب سلامونه !

 له میني او لورییني مو ډیره مننه ، دا چې بیا موهم زما د ماتو ګوډوځوابونو لپاره پوښتنې  رالیږلي او زه مو د ځوابونو لپاره  د ادب او هنر په اړه بیا فکرکولو ته اړکړې یم ، ځانګړې خوښنه کوم . دا دی ستا په زړه پورې پوښتنو ته ترخپل وسه د ځواب ویلو هڅه کوم، که زما ځوابونه نیمګړي وو ، هیله ده ومې بښئ .

هیله کوم، ستاسو څخه ډیره مننه.

پوښتنه: لیوال صاحب اجازه راکړئ، درڅخه وپوښتم؟  تاسو په خپل ادبي او فرهنګي بهیر کې لنډې کیسې او داستانونه کښلي دي او که نه؟  کمو نه دي لیکلې د هغه لامل څه دی؟

ځواب: په زلمیتوب کې مې د څه کیسو لیکلو شوق درلوده ، لومړی مې طنزونه لیکل ، دشپیتمي لسیزې د پای کلونه وو ،څه طنزونه مې چاپ هم شول ، بیا مې کیسو ته مخه کړه ، خو خپلې څو کیسې مې هیڅکله خپرې نه کړې ، کیسه لیکنې مې دروح ناکراري نه شوه تمثیلولای ، زما په اروا کې یو ناکراره خوځښت تل د شعر له ستوني ناري راوهلې او کله به مې چې خپله شاعري له کیسو سره پرتله کوله ، نو کیسې مې همداسې ساتلې بهتره ګڼلې ، کله مې چې په امریکا کې زده کړه کوله دخپل پوهنتوني ژوند یو دوه خاطرې مې ولیکلې ، لوستونکیو خوښې کړې ، د لنډو کیسو کره کتونکیو بریالۍ لنډې کیسې وګڼلې ، خو ما بیا هم پر کیسو پېښنه ونه کړه او لامې هم شاعرۍ ته کار ویلی و،

هوډ لرم ، چې يو رومان به ليکم ، دا رومان به زما دخپل ژوند رېښتيني کيسه وي ، زما خاطرې ، افکار، هڅې ، ماتې ، مينې او عواطف به تمثيلوي ، د دې داستان لپاره يادښتونه زيرمه کوم، خو داچې څه وخت به يې ليکل وپيلوم ، نه پوهيږم ، ښايي هېڅکله به ژوند دا چانس رانه کړي ، څوک خبر ؟

پوښتنه: تاسي داستان او رومان څه ډول راپيژنئ؟ ادب پوهانو لنډ داستان ډول ډول تعريف کړئ دی. تاسي کوم تعريف غوره بولئ؟

ځواب: داستان د انساني ژوند د تمثيل ادبي ژانر دی . پخوانيو انسانانو کيسي جوړولي ، ويلي او نظم کولي يي . ډېر زاړه داستانونه منظوم وو ، سادوانو ( ګرځنده ترنم ويونکيو) به په کوڅوکي داستانونه بيانول اوخلکو به اوريدل ، اناګانو او نيکونو به خپلو خېلخانو ته په اوږدوشپو کې کيسي ويلي . کيسي له افسانو ، اسطورو ، تاريخ ، افکارو اوپندونوسره ګډې وې. په ختيځ کې مهابهارت ، راماين ، کرينکا ودمنکا ( کليله ودمنه)، ګېلګمېش ، زرويوه شپه ، شهنامي ، د شيشکو او ديوانو کيسي ، فولکوريکي افساني خورا مشهورې دي ، په لويديځ کې هم له يوناني ايلياډو اوډيسي يې درونيسه تررومي افسانو او دعصر عتيق لويديزوشويو اسطورو پورې تولي هغه کيسي دي ، چې د لرغوني بشريت ژوند راپيژني ، ګنې داکيسي په نظمونوکې ويل شوي دي ، ددې لپاره چې اسانه حافظې ته وسپارل شي او له يوه نسله وبل ته ورسول شي. په دې توګه موږ ګورو چې کيسي ، نکلونه او افسانې خورا زړې دي ، مګر لنډه کيسه Short Story ، ناول Novel او رومان نسبتاً نوي ژانرونه دي .

لومړنی معلوم رومان په اولسمه پيړۍ کې د ميګل سروانتس ( دن کيشوت ) دی ، چې د (۱۶۱۶- ۱۵۴۷) کلونو ترمنځ يې ژوند کاوه . لومړني لنډ داستانونه ـ په يوه روايت ـ په څوارلسمه ميلادي پيړۍ کې د جوواني بوکاچيوداستان او( دکنتربري په حکايتونو مشهور) دجفري چاوسر ليکلي داستانونه ګڼل شوي دي، خو د کيسه پيژندونکيو له نظره له اوسنيو تعريفونو سره سم يې لنډ داستان نه شو ګڼلای . که داسې وي ، نو له نويو تعريفونو سره سم لومړني داستانونه د امريکايي ادګارالن پو او روسي نيکلای ګوګول داستانونه دي ، چې دواړو د نولسمي پيړۍ په پيل کې ژوند کاوه . ښتو ته لنډه کيسه او ناول دواړه دشلمي پيړۍ په پيل کې راورسيدې او په يوه انګيرنه دواړه اروابناد راحت زاخيلي ليکلي دي.

لنډه کيسه ديوه کرکټر دژوند ديوې برخې کيسه ده ، چې په يوه ځل ( قرائت ) ولوستل شي ، حال داچې ناول د ګڼو کرکټرونو د ژوند د څوبرخو کيسه ده ، چې د څومره والي له نظره هم ترلنډ داستانه لوړ اولوی وي .

دکیسې رغوونکي عناصر داسې شمېرلای شو : موضوع ، منځپانګه ، زمکه ( زمینه ) ، طرحه ( پلاټ ) ، تضاد ، شخصیت ( کرکټر) ، لید لوری.

پوښتنه: د یوه نوښتګرانه لنډ داستان او ناول ځانګړتیاوې کومې دي او په ټولیز ډول د پښتو داستاني ادب لپاره ریالیزم غوره بولئ که کوم نا ریالېستي ښوونځی، لکه رومانتېسېزم، اېکسپرېشنېزم، اېمپرېشنېزم یا اېګزېستنسیالېزم...؟ او دک و دلیل یې څه دی ؟

ځواب: ما مخکې وویل ، چې زه د داستان لیکنې عملي تجربه نه لرم ، خو کیسې او ناولونه مې ډېر لوستلي دي ، هر عصر ، ټولنیز وضعیت او دلوستونکیو رواني تنده د منځپانګې او بڼې له مخې د ناولونو نوښت ټاکي. زه په خپله هغه کیسې خوښوم ، چې خوځنده وي ، لید لوری یې روښانه او د کرکټرونو رواني څرنګوالی یې ماته په زړه پورې وي. د بېلګې په توګه کله چې زه داستایفسکي لولم ، دسوداخپلې او ستومانه انسان رواني تلوسه احساسوم او ښایي ځکه راته په زړه پورې وي ، چې زه به یې له کرکټرونو سره ځان همرنګه احساسوم، خو د نیکولای کازانتزاکیس په ناولونو کې مې هغه تریخ طنز خوښیږي ، چې غواړي درته ووایي : آیا ژوند په دومره جدیت ارزي ؟ په داستان کې هغه پیغام مهم دی ، چې غواړي تاسو له یوه نوي او له تصوره بهر پېښې یا پایلې ته ورسوي. پاتې شوه په افغانستان کې د داستان لیکنې سبک او شیوه ، چې تاسو له یوشمېر نړیوالو هنري مکتبونو سره پرتله کړي دي. ټول هغه مکتبونه چې تاسویاد کړي دي، دځانګړیو تاریخي ، اقتصادي، سیاسي ، فکري ، تعلیمي ، ټولنیزو او اروایي پېرونو( عصرونو) زیږنده دي. چې یو بل ته یې په منظمه بڼه بدلون موندلی دی ، په افغانستان کې زموږ ټولنې دا پړاوونه لانه دي وهلي ، ځکه خو دا ستونزمنه ده، چې تاسو لیکوال ملتزم کړئ ، چې د کوم مکتب پر پله ګام کیږدي او لیکل وکړي ، دلته کیدای شي یوداستان ددې ټولو ګډوله وي ، یا یولیکوال دخپل پیغام درسولو لپاره په یوه رومانتیکه زمینه کې له سمبولیزم څخه کار واخلي اویا هم کله له سانسور څخه د تیښتې لپاه داشیوه غوره کړي . کوم بل لیکوال به دخپل ذهن دسیال بهیر د ازمویلو لپاره دسوررریالیزم پېښې کوي او کوم بل به یوازې د تفنن لپاره تعقید ته مخه کوي .

زه فکر کوم موږ ښایي دخپلو لوستونکیو د ذوق اوتندې هنري خړوبولو ته ځیر شو . ما یو مهال دښاغلي اسدالله غضنفر پر یوه بریالي داستان ( غوښه ) لیکنه کوله ، عجیبه وه چې د ګڼو شیوو نښې مې په کې بیا موندلې ، خو حکم مې نه شو کولای چې دا کیسه دې په کوم ( ایزم ) پورې وتړم . پایله مې هم داوه چې دا یو بریالی داستان و، ځکه دخپلو کرکټرونو د رواني عقدو ښه تمثیل یې کولای شو . هغوی چې غواړي دلیکوالی لاره وټاکي ، ډېرې مطالعې ته اړتیا لري ، بیا نو باورلرم ، چې خپله لاره موندلای شي .

پوښتنه: یو شمیرلیکوال د خپلو نا پېیلو پنځونو، داستانونو، ناولونو په تېره تکل او ګپ و شپ کې خورا خوږه، او له طنز و کنایې ډکه ژبه کاروي، ستاسو په آند د دې لامل څه دی؟

ځواب:طنز دلیکوالی مالګه ده، لکه خندا چې دژوند مالګه ګڼله کیږي. کله کله په ډیرو تراژیکو اثارو کې هم د طنزښې موندلای شئ ، طنز کله پټ وي او دجدي پېښو ترشا تاسو ته سترګک وهي .

په پښتو کیسه لیکنې کې له طنز سره مل داستانونه شته او بریالي لیکوال یې اروابناد منان ملګری ، سلیمان لایق ، سعدالدین شپون ، عصمت قانع ، وکیل سوله مل شینواری، حفیظ الله تراب اوګڼ شمیر نور دي ، چې دډېرلو نومونه یې دلته نه شم یادولای . ددغو لیکوالو دکیسو جوړښت دلندو کیسو یا ناولونو دی ، خو پېښې ، کرکټرونه او ژبه یې د طنزخواږه لري .

پوښتنه: ستاسي له انده لنډه کیسه او ناول او بیا دا دواړه له نورو ناپېیلو(منثورو) ځېلونو (طنز، تکل، نندارمې یا نمایشنامې، فیلمنامې...) سره د میتود له پلوه څه توپیر لري؟

ځواب: لنډه کیسه او ناول دانساني ژوند یوه برخه رانغاړي او یا هم دیوه انسان درواني حادثوتمثیل کوي ، طنزونه له اره دکومیډي په چوکاټ کې لیکل کیږي، او دهدف ترڅنګ دلوستونکي دخندولو پاژه هم لري ، نندارمې بیا بیل چوکاټ لري ،چې دداستاني جوړښت ترڅنګ تمثیلي ارزښت هم باید ولري او پرلوبغالي (ستېج) دلوبېدلو وړتیا په کې په پام کې ساتل کیږي. فیلمنامې هم له تخنیکي پلوه کامرې ته  دیوه داستان ورسپارل دي ، چې دلید ونکي دسترګوله لارې اخیستل کیدای شي .

پوښتنه:  په داستاني ادب کې ټولنیز بدلونونه څه ځای لري، آیا داستاني ادبیاتو زموږ ټولنیزشرایط انځور کړي دي او که نه؟

ځواب: ټولنیز بدلونونه ډیر مهم دي ، دټولنې د پوهې او شعور کچ ، اقتصادي وضعیت ، لیک لوست ، او ټولن ـ اروايي ځرنګوالی د داستانونو سبک ، ژبه ، موضوع او کرکټرونه ټاکي .  په اروپا کې فیوډالي زماني خپل داستاني ادبیات درلودل ،  دژرژسان ( ولانتین ) ناول یې ښه بېلګه ده ، وروسته د بورژوازۍ له دورې سره سم رومانتیسیسم پیاوړی شو ، ریالیزم دچپ سوسیالیستي ټولنې په طبع برابرمکتب و، بیا مدرنیزم ته مخه شوه ، له نړیوالي جګړې سره د فردیت عقدو نهیلیستي روحیه وزیږوله . همدا اوس زموږپه ټولنه کې دجګړې په وړاندې دشعارونو ادبیات تاوده دي . دا بېلګې ښيي ، چې ادبیات دځانګړیو ټولنیزوشرایطو هنداره ده او اغیز یې ترنورو ژانرونو پرداستاني هغه ډیردی .

پوښتنه: ستاسې پراند داستان ليکونکي څه وکړي، چې مينه وال (مخاطب) يې په چټکۍ سره داستان ته ورننوځي او هغه تر پايه ولولي؟

ځواب: ځان دې د لوستونکي پر ځای وټاکي. د پېښو ، څېرو ، او ډيالوګونو هغه تخنيکي اړتياو ته پام مهم دی ، چې له لوستونکي سره دداستان په درک کې مرسته کوي ، ښاغلی غضنفر ورته (ريښتياغوندې توب ) وايي ،د داستان هرحرکت څومره عيني دی او خامخا پېښېدل يې د لوستونکي ذهن او زړه ته لوېږي ؟ مانا يې داده چې ليکوال دهرڅه په تمثيل کې بايد ريښتينی ښکاره شي. لوستونکی نه غواړي پر هغه څه وخت وبايلي ، چې ليکوال يې د تشو ځايونو د ډکولولپاره ليکي. غواړم چخوف ته منسوبه وينا تکرار کړم : ( که په داستان کې دکوټې پرپرده دټوپک انځور ترسيموئ ، نو پام مو وي ،چې دا ټوپک بايد د داستان په يوه برخه کې ډز وکړي اوکه نه هسې مو بيځايه دلوستونکي وخت ورخوړلی دی )

پوښتنه: د يوه داستان او ناول په رامنځته کېدو کې د يوه هيواد بېلابېلې پدېدې لکه جګړه، بېوزلي، او کډوالي او داسې نور... څه اغيز لري؟ ستاسو پر اند يو ليکوال په خپلو آثارو کې جګړه او د جګړې ضد دريځ څه ډول بايد انځور کړي؟

ځواب: ما يوبل ځای هم ليکلي وو :

هره جګړه د ځينو خلکو لپاره حماسه ده ، خو د نورو لپاره تراژيدي .

يونانيانو پر ترای ( تراوا) ښار باندې يرغل وکړ ، چې ددغه ښار له شاه زوی (پاريس) سره تېښتېدلې ملکه ( هلن ) بېرته راستنه کړي ، نو ديونانيانو لپاره دحماسو ګڼې سوژې وزېرېدې ، هومر خپل شهکارونه ( ايلياډ او اوډيسي ) دهمدې جګړې د اتلانو په ستاينه کې وليکل ، ديونانيانو لپاره د آشيل ( ارکيليس ) او اوډيسوس ( اوډيسې) پهلوانيو دپېړيو پېړيو لپاره الهام ورکاوه ، خو داپوښتنه هم کېده چې دغې جګړې دترای دخلکو لپاره څه ډول پايله درلوده ، هغه ښار چې ټول نارينه يې ووژل شول ، ودانۍ يې د اور خوراک شوې او يوازې دسلطنتي کورنۍ نازکې مېرمنې او داشرافو ښکلې لونې داسيرو مينځو په کتارکې زنځير تړلې يونان ته يووړل شوې ، چې د يوناني سرتيرو دهوس ټټرونه ساړه کړي . يوروپيدس په خپله تراژيدي ( دترای ښځې ) کې ددوی کيسه رااخلي ،په ادبياتو کې دجګړې ماهيت دوه ډوله دی ؛ لومړی ماهيت يې دګټونکيو له نظره دی او دوهم يې دبايلونکيو ، لومړنی ډله دحماسې او وياړنې په سترګه ورته ګوري ، خو دوهمه ډله دتراژيدي او غميزې په نظر .

دهمدې لپاره دجګړې د اروا پوهنې ماهرين فکر کوي ، چې په نړۍ کې هېڅ سپيڅلې او روا جګړه نشته ، ځکه هره روا جګړه دهغې د قربانيانو لپاره ناروا او کرکجنه ده .

مور.افغانان چې دټولو جګړو قربانیان یو او هېڅکله موجګړه ( په ریښتینې توګه ، له سیاسي پلوه) نه ده ګټلې ، بلکې هرځل مو چې یو ښکېلاکګر وهلی بل رانړوتلی دی ، له دې اړخه په بایلونکیو کې یو .

مور ، چې ډېر په اسانه وژل کیږو او وژل کوو، یو لامل یې دادی ، چې تاوتریخوالي مو په ارواکې ریښې کړې دي . انسانوژنه ارواییي ناروغي ده ، چې زمور په هېواد کې ګڼ شمېر وګړي پرې اخته دي ، هغوی چې انسانان وژني ددې ناروغۍ په سخت حالت کې دي ، نږدې ده ووایم : په ناروغۍ کې لیونتوب ته نږدې شوي دي . هغوی چې داهرڅه ویني ، خو بېتفاوته دي ، هم پر دې ناروغۍ اخته دي ، چې دایې یوڅه کمزوری حالت دی او هغوی چې دانسانوژنې په وړاندې مخالفت نه کوي هم ،ددغې ناروغۍ اغیز منلی دی .

دمیخاییل شولوخوف نامتو رومان ( ارامه ډُن ) مور ته ښیي ، چې څنګه یوانسان په وژنه روږدی کیږي ؟ درومان اتل ( ګریګوري ) کله چې دلومړي ځل لپاره ـ دیوه سرتیري په توګه ـ خپل دوښمن په خپل لاس وژني،داپېښه یې پر اروا ژور اغیزکوي ، هغه ګوري ، چې یو انسان د هغه دتورې تر ټېونو لاندې ریږدي او ساه ورکوي ، اتل فکر کوي ، کیدای شي زه دده پرځای وم ، ولې ؟ آیا دجګړې هدف ددې ارزښت لري ، چې دهغه لپاره دا قرباني یا زه دومره درد او تراژیدي وزغمو ؟ ګریګوري ترډېر اغیز لاندې دی ، خو جګړه دوام لري او دی باید نور خلک هم ووژني او بالاخره داسې کیږي چې هره ورځ څوکسان وژني ، رومان ښیي ، چې څنګه یې اتل له وژنو سره روږدی کیږي او نورنو دخپلو سیاسي باورونو لپاره انسانوژنه ورته لویه ستونزه نه پېښوي . داسې فکر کیږي ، چې دیوه ټولنیز عمل تکرار ورو وروپه ټولنیز عادت بدلیږي او که مخه یې ونه نیول شي ، داسې معافیت ته رسیږي ، چې نورنوپه یوه دود ( رواج ) بدلیدای شي .

زمور په ټولنه کې انسانوژنه دمعافیت تر بریده رسیدلې ده او دا ویره شته چې له یوه ټولنیز عادت څخه په یوه دود واوړي .

یو لامل یې دادی ، چې مور عاطفه ورکه کړې ده . زمور په هېواد کې عاطفه هېره شوې ده او که تاسو دزړه سوي او عاطفې ، اخلاقو یا قانون په اړه خبرې وکړئ ، نو خلک به درته ووایي : زه وروره دا زاړه شیان په اوسني سیاست کې ځای نه لري .

په ادبیاتو اوهنرونوکې دحماسې په نو م تشې لاپې ، له تورو او ټوپکو سره د اتلولیو ترلتیااو دټوپک (ناموس) ګڼل رالوپیدونکي نسلونه له دغو وژونکیو توکیو سره عادت کوي ، او ددوی په زړه کې له دغو کرکجنو وسلو سره مینه پیدا کیږي .

پرلپسې محرومیت موږ له ډیرو عقدو څخه ډک کړي یو . پرلپسې تاوتریخوالي مو په لاشعور کې دبدو ځېرو ، وژونکیو او ظالمانو په وړاندې ډیرې عقدې رامنځته کړې دي ، هرکله چې له بل انسان سره مخامخ کیږو ، بدبیني ، کرکه ، بېباوري او عقدې مو ، له (هغه) سره برخورد ټاکي ، داټول لاشعوري انفعالات او کرکې دعاطفې ، مینې او یوپربل باور ځای نیسي. ځکه ،خو موږ بې عاطفه شوي یو او کله چې دشپې پر ټلویزیون ګورو چې په لسګونو کسان وژل شوي دي ، مړي یې راښیي ، وینې ګورو ، دغوښو ټوټې ګورو نو هیڅ ټکان نه خورو ، ټلویزیون چالانه وي ، خو موږ بېغمه مړۍ وهو او دبیګاه ډوډۍ ته دوام ورکوو ، په خپلو منځونو کې خبرې کوو، خاندو ، لکه هېڅ چې نه وي پېښ شوي .

کومه دي هغه ادبیات چې زموږ دا کړنه وغندي او دا راپه یاد کړي ، چې موږ ناروغان یو ، اروایي ناروغان ؟! کومه ده هغه لیکنه ، چې موږ په دې وپوهوي ، چې په خپل ملت کې یوه لویه برخه سادیستان لرو ؟ هغوی چې انسانان وژني او یایې ځوروي هغوی سادیستان دي او موږ په خپل ملت کې دداسې سادیستانو ډلې لرو ، تنظیمونه یې لرو او ان حکومت کې ترټولو زورور خلک هم همدوی دي ، چې انسانان یې وژلي ، ځورولي او که اوس یې هم د ګټو په وړاندې ودریږي ، نو وژني یې یایې ځوروي .

له دې څخه پایله اخلو ، چې موږ دسولې ادبیات نه لرو ، بلکې دسولې په هکله ادبیات لرو.

زموږ شعر دسولې لپاره شعار ورکوي ، زموږ کیسه دجګړې په وړاندې چیغې وهي ، مرده بادجنګ !!! زنده باد سوله !!! دادسولې ادبیات نه دي . شعارونه دي . موږ په شعر کې دسولې مړ او تبجن ارمان انځوروو او له جګړې څخه ژاړو ، خو هېڅکله د یو جګړه مار سادیست اروا ته نه شو ننوتلی ، چې وګورو هغه ولې ناروغ دی ؟ ولې وحشي شوی دی ؟ موږ دیوه قرباني دسترګو وروستۍ ځلا نه ده انځور کړې ، چې پړک یې دقاتل له لاسه چاړه وغورځوي ، یایې دې ته اړکړي ، چې چاړه په خپله ګېډه ومنډي ، زموږ ادبیاتو دومره عاطفي زور نه دی درلودلای ،چې قاتل ځانوژني ته اړکړي ، چې سادیست سیاستوال لیونی کړي او د انزوا په مغاره یې ورننباسي .

ځکه نو زه وایم ، چې موږ دسولې ادبیات نه لرو . باید رامنځ ته یې کړو .

په امریکایي ادبیاتو کې یو نامتو رومان شته چې ( دتوم اکا جونګړه ) Uncle Tom's Cabin نو میږي او په کال (۱۸۵۲) کې خپور شوی دی ، لیکواله یې ( هریت بېچر ستو) نومېده ، چې دامریکایي ادبیاتو یوه خورا نوموتې څېره یې ګڼلای شو، دغه لیکواله دخپل دې رومان لپاره دډیرو خلکو له مینې همداراز دګڼو خلکو له کرکې سره مخامخ

شوه ، ځکه یو شمېر خلکو فکر کاوه چې په امریکا کې دکورنی جګړې دپیلېدو یو لامل دهغې همدغه ناول و، چې د مرییتوب پر وړاندې یې خلک ودرول او خبره جګړې ته ووته ، ان تردې چې دجګړې په تاوده بهیر کې ولسمشر ابراهام لېنکلن دغه لیکواله ومنله او په لومړنی کتنه کې یې ورته وویل : (( ښه نو ، ته هماغه کوچنۍ مېرمن یې ،چې یوه لویه ( کورنۍ ) جګړه دې پیل کړه ؟!))

که یو ادبي اثر یوه لویه جګړه پیلولای شي ، ایا په سلګونو ادبي اثار سوله نه شي راوستلای ؟

که اثار ریښتیني ادبي اثار وي او اغیز یې هماغومره وي ، لکه دپورتنی بېلګې چې و، خامخا به ویده عواطف راویښ کړای شي او ناروغ سادیست روانونه به د سالمو سوله خوښیو روانونو په وړاندې په شا وتنبوي .

سادیسم یوه رواني ساري او ارثي ټولنیزه ناروغي ده ، چې که عواطف یې پروړاندې راویښ نه کړای شي ، په چټکۍ سره خورېږي ، همدا اوس زموږ په هېوادکې د سیاسي ګټو او ایډیولوژیکو لاملونو لپاره یوه لویه برخه خلک پر دې ناروغۍ اخته دي ، یو شمېري انسانان په خپلو لاسونو وژني یايې ځوروي او نوره برخه یې داهرڅه ویني ، خوچوپ دي . ادبیات او هنرونه همدلته باید خپله دنده ترسره کړي او دسادیستو ، بېرحمه ناروغو وژونکیو اروا ته ننوځي او خلک په دې خبر کړي ، چې وژونکي نه یوازې دا چې دخپلو کړنو لپاره مشروعیت نه لري ، بلکې ناروغه ارواوې لري او دوی غیرنارمل او ګوابښمن شخصیتونه ګڼل کیدای شي ، په دې توګه به وګورو ، چې وژونکي ځانته متوجې شي او دخلکو له کرکې سره به ځان مخامخ وویني ، سوله له همدې ځایه پیلیږي ، کله چې ناروغه ارواوې په دې وپوهیږي ،چې ناروغه دي ، هره سوله باید د انسانانو په روان کې وکرله شي ، ترهغو چې په ارواوو کې سوله رانه شي ، په سیاستونو کې نه شي راتللای او په اراواو کې سوله ادبیات ـ هنرونه ، اخلاق ، عاطفه ، قوانین او عقاید راوستلای شي . موږ باید په ټولنه کې وروستي څلور ازښتونه بیرته راژوندي کړو ( اخلاق ، عواطف ، قوانین او عقاید) څلور سره ارزښتونه چې نیک له بدو بیلوي او انساني خصلتونه ټاکي ،دلته مړه شوي دي ، کمزوري شوي دي ، هرکله چې ادبیاتو او هنرونو دغه انساني ارزښتونه راژوندي کړل ، بیا نو ویلای شو ، چې موږ هم دسولې ادبیات لرو .

پوښتنه: د ځینو لیکوالو پر اند د یوه هیواد ادبیات هغه وخت وده او پرمختګ کوي، چې له سیاست څخه بیل او یا په بله ژبه له هغه څخه واټن ولري، که چیرې دا خبره پر ځای وبولو، د نړۍ ډیرو سترو لیکوالو سیاسي اندیښنې درلودې لکه (کوندرا، داستایوفسکي،

چخوف) اوداسې یو شمیر نورو...، چې ټولو یې سیاسي لرلید درلود، تاسې د یو لیکوال ، روښاندي اوفرهنګي ستېي په توګه په دې اړه څه فکر کوئ؟

ځواب: لنډه یې چې درته ووایم ، ډېره سخته ده چې تاسو داستان ولیکئ او ځان له سیاسته وساتئ ، ټولنه د سیاسي انسانانویوه سیاسي مجموعه ده او تاسو د ټولنې مخاطب یاست او سرچینه مو هم ټولنه ده. انسان څلوړډوله مخامختیا لري ، له طبیعت سره ، له بل( فرد ) سره ، له ځان سره او له خپل معبود سره . که یوازې خالصه اړیکه یې وګڼو، نو یوازې له معبود سره دانسان اړیکه اعتقادي ده . دا درې نورې اړیکې ټولې سیاسي دي ، ان له ځان سره هم. ځکه خو که داستان یا بل ادبي ژانرغواړي دانسان څلورګونې اړیکې تمثیل کړي ، نو له سیاسته لرې نه شي پاتې کیدای .

پوښتنه: شکسپیر، ګویته، ټاګور، ولتر، بلزاک، هوګو، پوشکین، تولستوی، ماکسیم ګورکي، دانته، داستایوفسکي، چې نړیوال فرهنګیان دي، او د خپلو هیوادونو د پیژندګلوي او شهرت لپاره یې ستر خدمتونه تر سره کړي دي، ستاسې پراند د دوی نوښتونه، نامتو او تلپاتې آثار کوم دي، اوڅه ډول یې ارزوئ؟

ځواب: شکسپیر دانګریزي ادبیاتو پلار بلل کیږي، هغه نه یوازې ډرامې ، شعر او انګلیسي تیاتر ته ډیر څه وبښل بلکې دانګریزی ژبې ادبیات یې معیار ته ورسول ، همدا اوس هم معتبره لیکنی انګریزي دشکسپیر ادبیاتو ته ورته ګڼل کیږي، ویل کیږي چې دشکسپیر اثارو دمنځنیو پیړیوسخت زړي او پرچګړو روږدي انګریزان معنویاتو ته راوګرځول او ورو ورو یې دیوه لوی اونومهالي مدنیت پراخولوته ورپورته کړل .
ګویته په جرمني ادبیاتو کې دیوه رومانتیک لیکوال په توګه دځانګړي ځای خاوند دی ، دغه سترشاعراو لیکوال چې له شرقي ادبیاتو سره هم اشنا و دشیرازي حافظ دغزلو تر سیوري یې خپل شرقي دیوان بشپړ کړ همده د ( فاوست تراژیدي ) ولیکله ، چې له خورا سترو اثارو څخه یې ګڼلای شو ، په دې تراژیدي کې وینو چې ډاکټر فاوست خپل روح پر شیطان ( مفستیو ) پلوري ،چې عیش وکړي ، خو یومهال ګوري ، چې څومره تیروتلی اوځان یې پر ابدي نفرین ککړ کړی دی. دجرمني په کلاسیکانو کې دګویته ځای نه دی ډک شوی، ( دځوان ورتر غمونه ) یې د مینې یو ستر شهکار دی .ټاګور دبنګالي ژبې ترټولو ستر شاعر دی ، چې دمینې او عرفان ستوری بلل کیږی ، نوموړی دشاعرۍ ترڅنګ یو ښه نقاش ، موسیقي پوه او داستان لیکونکی هم و ، له افغانستان سره یې خپله مینه په مشهوره کیسه ( کابلي والا) کې څرګنده کړې ده ، نوموړي دخپلو مناجاتو ( ګیتانجلي ) لپاره دنوبل جایزه وګټله او دا اثر یې د نړی په ژوندیو ژبو ، له هغې ډلې په پښتواودري ژبو هم ژباړل شوی دی ، بل شهکار یې ( باغبان ) نومیږي ، چې دوه ځلې پښتو ته راژباړل شوی دی . ولتر دفرانسې داتلسمې پیړۍ نامتو شاعر او فیلسوف و، چې

( آنریاد) ( دبروتوس تراژیدي ) او ( سي میرامیس) یې نامتو شهکارونه دي ، نوموړی دفرانسې په کلاسیکانو کې دانګریزي شکسپیر دکچ شاعر ګڼل کیږي . بالزاک د ټولنیز ریالیزم بنسټګر بلل شوی، دبالزاک داستانونه دلسیزولپاره دځوان نسل په لاسونو کې وو، ده دخپلو لیکنو ټولګه ( انساني کومیډي ) بلله ؛ بابا ګوریو او دزرینو سترګو نجلی یې له مشهورو لیکنو څخه دي ، څېړونکي وایي چې دفرانسې په کلاسیکانو کې ترټولو ډیرې لیکنې دبالزاک وې .

ویکتورماری هوګو دفرانسې دانقلاب دوجدان نوم وګاټه. ( بېوزلان ) چې په پښتوهم ژباړل شوی ، (دنتردام شاکړوپی) او ( هغه سړی چې خاندي) یې مشهور آثار دي . نوموړی په فرانسه کې د رومانتیسیزم بنسټوال ګڼل کیږي .

پوشکین د روسي ژبې ترټولو ستر شاعر ګڼل شوی دی ، چې دشاعرۍ ترڅنګ د ماشو مانو لپاره هم خوږې لیکنې لري ، روسان هغه دخپل ملت وجدان ګڼي او فکر کوي ، چې بیا نه تکراریږي . تولستوی د روسي ژبې ستر لیکوال دی ، چې دوه ستر آثار یې دنړۍ په کچ نوموتي ادبي اثار ګڼل کیږي ( جګړه او سوله ) چې له نیکه مرغه پښتوته هم ژباړل شوی اوزماپه سریزه خپور شوی دی، په نړۍ کې دلوموړي کتار سترو ناولونو څخه دی او بل شهکار یې (آنا کارنینا ) ده چې زما یې دا اثر ډیر خوښ دی او یومهال مې یوه پراخه لیکنه هم پرې کړې وه. ماکسیم ګورکي ( الکسي ماکسیموویچ پېشکوف) د روسي ژبې ریالیست کیسه لیکوال و، چې دټولنې دټیټ پوړ اتلان یې په داستانونو کې ګورو ، دده خپل ژوند چې له بېوزلۍ او سرګردانۍ سره مخامخ وډیرځله دهغه په کیسو کې ځان راڅرګندوي ، ( دډوډۍ په لټه ) ، ( مور) ، ( درې ملګري ) یې خورا مشهور اثار دي، ګورکي ترخپلې زمانې وروسته دسوسیالیستي انقلاب له برکته ډیر مشهور شو.

دانته الګیري د ایټالیې نامتو شاعر او لیکوال و، چې پر (۱۲۶۵) په فلورانس کې وزیږید او پر (۱۳۲۱) په راوانا کې ومړ. دده نامتو اثر ( الهي کومیډي ) دنړۍ له تلپاتې اثارو څخه ګڼل کیږي. له دې پرته هغه یوشمېرنورې لیکنې هم لري چې د یوڅونومونه یې دي: ( نوی ژوند)، ( مېلمستیا) ، ( پاچایي ) ، خو الهي کومیډي یې ډیره مشهوره ده، په دې اثر کې لیکوال دوزخ ، جنت اوبرزخ ته روحی سفر کوي او هلته دنړۍ له مشهورو څېرو سره خبرې کوي، دکیسې له اتل سره چې متکلم ( پخپله شاعر) دی دهغه ریښتینې معشوقه ( بیاتریسه ) هم مل ده . ګڼ کره کتونکي دغه سفر یو روحي سفر بولي.

او بالاخره د استایفسکي چې د داستان لیکنې په نړۍ کې به یې ځای تر پیړیو تش وي ، د روسیې او نړۍ له پیاوړیو داستان لیکونکیو څخه دی ، مشهور رومانونه یې : ( دکارامازوف ورونه ) ، ( جنایات او مکافات ) ، ( قمارباز، پښتو ژباړل شوی) ، ( زمکلاندې یادښتونه ) ، ( لوده ) ( پیریانیان ) ، ( سپینې شپې چې پښتو هم ژباړل

شوی دی ) ( دمړیو دکور یادښتونه ) او نور دي . د ده په داستانونو کې د کرکټرونو رواني ځانګړني تمثیلیږي، دکارمازوف ورونه یې داسې هم تعبیر شوی دی ، چې دا په حقیقت کې دیوه انسان د ننه پینځه ډوله حواس او غرایز تمثیلوي ، کسات ، پوچې ، غریزه او د مرګ وژوند ترمنځ بریدونه د ده په اثارو کې ځانګړی ځای لري ، دنومهالي اروا پوهنې پلار اوتریشي زیګموند فروید دده داستانونه په غور لوستي ووا او په امریکاکې یې په خپلو مشهورو دریو ګونو خطابو کې دده له کیسو خپل الهام نه پټاوه، تردې بریده چې ویلي وو، اروپوهنه یې د داستایفسکي له کیسو زده کړې ده .

دا ټول هغه لیکوالان دي چې هریو دیوې مدني دورې ، د یوه فرهنګ او انساني ارمانونو د یوه عصر استازیتوب کولای شي .

پوښتنه : همدا راز موږ افغاني لیکوالان لرو چې زیات رومانونه یې کښلي دي لکه: د هیواد د پیاوړي لیکوال ښاغلي داکتر ببرک ارغند د (لبخند شیطان)،( ۱۱۴۳) پاڼې ، (پهلوان مراد و اسپی که اصیل نبود)، (۵۰۰) پاڼې، (کفتر بازان)، (۵۰۰) پاڼې ستر او لوی رومانونه د خوږ ژبي لیکوال ښاغلي داکتر صاحب اکرم عثمان  د (کوچهٔ ما) تاریخي رومان او داسې نور رومانونه لکه: (ښایستو)، (و، نه و یو شپون و) د یوه او مخکښ لیکوال ښاغلي سعدالدین شپون په قلم، (په کور یو لیونی)، د  قدر وړ او ښه لیکوال ښاغلي محمد انور وفا سمندرلیکنه، (مینه او جګړه) د ګران لیکوال علم ګل سحر اثر او نور لرو. تاسې څه فکر کوئ زموږ په هیواد کې رومان لیکنه به د سیمې له هیوادونو په تیره بیا زموږ د هم ژبو هیوادونو سره سیالي او رقابت وکړای شي او که نه؟

ځواب:دغه لیکوال چي تاسو یاد کړي ، په افغاني ادبیاتو کې ځانګړی ځای لري ، د ښاغلي ارغند کیسې مې په تاند زلمیتوب کې لوستې وې، په تیره بیا همدا ( پهلوان مراد واسپې که اصیل نبود) د یوه انسان او اس عجیبه مینه ښیي ، چې یووخت دهغه اس کله چې نورنو وزلوبه نه شي کړای نودقصاب ترچړې لاندې پریوځي او ببوسه پهلوان مراد ته خپلې وروستۍ اوښکي بهوي ... دښاغلي اکرم عثمان دځانګړي سبک کیسې مې هم د زلمیتوب د دورې خاطرې دي ، دهغه ( وقتی که نیها ګل میکنند) داستان او دهغه اتل کاکه اکبر مې تل د ذهن پر پرده انځورو ،د استاد شپون د بریالیو ناولونو هرکلي خو وښودله چې بریالي ناولونه کولای شي یوه نالوستې یا نیمه لوستې ټولنه هم په لوستلو روږدې کړي ، یو مهال مې ښه په زړه دي چې د استاد شپون ناولونه له شین ټاغي نیولې تر ( دسمڅې یاران ) هر زلمي پېښتانه لوستل او( د ښنګي غاړه ) داستانونه خو یې ښاغلي خالق رشید پر خوږه پاړسي هم اړولي وو . په پښتنو کې ترتاسو یادکړیو لیکوالو ګڼ نور بریالي کیسه لیکوال هم شته : ښاغلی زرین انځور، محک ، دودیال ، کرګر، غضنفر ، نصیراحمد احمدي ، ډاکترزغم او ګڼ شمیر نور ، چې دټولونومونه یې خورا اوږد لیست

جوړوي ، زه باورلرم ،چې موږ همدااوس هم دکیسه لیکنې لپاره ډیرې سوژې لرواو داسې لیکوالو ته اړتیا لرو ،چې دسوژوغځولو ساه یې پخه وي او له دې اورنیو حالاتو څخه نړیوال شهکارونه راوپنځولای شي .

پوښتنه: موږ غښتلي او پیاوړي لیکوالان لرو لکه غوث خیبري، اروابناد امین افغان پور، اکبر کرگر، عبدالروف قتیل خوږیاني، راحت زاخیلي او نور چې د ټولو یادونه ډیر وخت نیسي، خو لکه څرنګه چې ښایي د هغو اثارو په خپراوي او پیژندنه کې وړ او دقیق کار نه دی شوی. تاسي یې دلیل په څه کې وینئ؟ دولتي چاروکي تل د نشت په اړه خبرې کوي خو هغه څه چې شته د هغو په باب چوپه خوله دي.

ځواب: زموږ دوه لویې ستونزې دي ، یوه داچې لاهم د کتاب لوستلو فرهنګ نه دی عام شوی ، له لوستلو سره مینه کمه ده ، یوخو فقر دی او بل له بده مرغه داعادت دسرکارله خوا نه دی هڅول شوی ، دښووني اوروزنې او بیا لوړو زده کړو چاپیریال مو نیمګړی دی ، زده کوونکی لوستلو ته نه هڅول کیږي،ټوله زده کړه داستادانو دزړو او شوړیدلو کتابچو په نوټ پورې تړلی دی ، شاګرد نه کتابتون پیژني او نه هم له نوټه پرته دلوست پر ارزښت پوهیږي . دهمدې لپاره دلوست عادت نه دی عام شوی ، دوهمه ستونزه دژباړې نشت یا کمښت دی ، نه بهرني اثار پښتو ته راژباړل شوي دي او نه هم پښتو هغه دهڅوني په پار نړیوالو ژبو ته ، دهمدې لپاره زموږ ادبیات دیوه هېر شوي او بې ګودره ټاپو ادبیاتو ته ورته دي ، چې نړۍ یې لانه پیژني اودوی لا نړۍ نه پیژني ، زه باورلرم ، همدا زما اوستا په مرکه کې چې پر کومو نړیوالو اثارو غږیدلي یو ، یو شمېر ځوانانو ته خوند نه ورکوي ، دوی به فکر کوي ،چې موږ د پیریانو په ژبه غږیږو ، دوی لا هم له نړیوالو سترو شهکارونو سره دخپلو تخلیقاتو دپرتلنې له پایلو څه ویریږي او نه غواړي پرته له خپلو ګوته شمېر اثاروڅخه دنوربشریت له لیکنو او افکارو څخه خبر شي ، نړدې ده ووایم ، چې موږ هغه ملت یو ، چې نه فکر تولیدوو او نه هم فکرمصرفوو .

پوښتنه: له سانسور پرته یوه آزاده او دیموکراتیک تشیال( فضا)، د داستاني آثاروپه لیکنو کې د یو لیکوال په هڅونه او لمسونه کې څومره اغیز لري؟

ځواب : سانسور څوډوله دی ، سیاسي سانسور ، اخلاقي ټولنیز سانسور او رواني سانسور . ځینې مهال استبدادي بنسټونه یا حکومتونه لیکوالان سانسوروي یا د حاکمیت له ویرې لیکوال ځان سانسوروي ، ځینې مهال لیکوال ددې لپاره ځان سانسوروي ، چې له اخلاقي ارزښتونو، ټولیزو باورونوسره ټکر نه شي  یا یې هم ځاني وقار ته دزیان اړولو ویره دې ته اړکوي ، چې ځان سانسور کړي . بل رواني سانسور دی ، دانسان رواني پېښنې ښیي ، چې دنیمه شعور او بشپړ شعور ساحې دانسان لاشعوري زیرمې نه پریږدي

، چې راووځي او دفکرپه مرسته دبیان وړتیا خپله کړي، چې دې ته رواني سانسور ویلای شو .

دادبیاتو دتحول په تاریخ کې ګورو چې بېلابېلو لیکوالو او دلوړو اثارو هستوونکیو هڅه کړې ، چې ځان له هرډول سانسورڅخه وژغوري ، ایهام ، رمز ، اشارې ، ژور تخیل ، سېمبول هستوني او دذهن دبهانده خوځښت انځوررولو ته یې مخه کړې ، کله یې ځان له سیاسي سانسوره ساتلی ، کله له اخلاقي ټولنیزو قیدونو څخه تښتېدلی او کله یې هم دخوبونو او هذیان ( پرتو) په مرسته له رواني سانسوره دځان ژغورنې هڅه کړې ده . له دې ټولو سره سره هېڅ داسې اثر لا هم نه دی خلق شوی ، چې له ټولو سانسورونو څخه خلاص وي . ښه اثر هغه باله شي ، چې دسانسور سیوری پرې کم وي . دانسان دروني نړۍ له عجیبو معماوو او پېچلو پېښو څخه ډکه دنیا ده، دانسان ټولنیزې تجربې نورو نسلونو ته په زړه پورې دي . انسان کړای شي دخپل تخییل په مرسته داسې ښکلا وپنځوي ، چې نورو ته دذوقي مصرف په زړه پورې زیرمه شي ، ځکه خو که دا رواني پېښې ، ټولنیزې تجربې او ښکلاییزې پنځوونې له سانسوره خلاصې وي ، هماغومره به یې مصرفوونکیو ( لوستونکیو) ته په زړه پورې وي. دلیکوالی لپاره پرانیستې ذهني فضا دومره اړینه ده لکه کب ته چې اوبه ضروري دي .

پوښتنه: ادبي کره کتنه څه ډول ارزوئ، او کله داسې هم پیښه شوې چې تاسې پر خپلو آثارو او دنورو لیکوالو پر اثارو کره کتنه ترسره کړې وي؟

ځواب : ادبیات دټولنې او اوکره کتنه دادبیاتو دوجدان حیثیت لري. کره کتنه دادبي انارشۍ او ګډوډۍ مخه نیسي او دګټورې مطالعې شونتیا ډېروي ، په هغوټولنو کې چې کره کتنه کمزورې وي ، دادبي اثارو نامنسجمه ، تکراري او بېخونده ګڼه ګونه پر ادبیاتو دخلکو باور راکموي ، دهمدې لپاره کره کتنه دادبیاتو دژوند اوبقا ترټولو اغیزمن ځواک دی . ادبپوهنه له آره په دریبو برخو ویشل کیږي : ادب تاریخ ، ادب تیوري او ادبي کره کتنه ، ګوروچې له لویه سره ادبي کره کتنه دابپوهنې یوه رغوونکې برخه ده . موږ دکره کتنې له اړخه په ښه حالت کې نه یو، کره کتنه مو له لومړي سره له جدي سانسور سره مخامخ ده ، یاویریږو چې څوک خواشینی نه شي ، یاویره لرو چې سیاسي ستونزه به راجوړه شي ، یامو ویره وي ، چې له کوم ټولنیز قرارداد ( اخلاقو ) سره ټکر نه شو. یو لامل یې دادی ، چې دکره کتنې په ډولونو او میتودونو نه یو خبر ، کره کتنه یوازې دې ته نه وایي چې دیوه اثر نیمګړتیاوې رابرسېره کړویا یې په ستاینو ځان ستومانه کړو، کره کتنه په حقیقت کې داثارو شرح او تفسیر دی ، دپوښلیو څندو رابرسېرول یې دي. ما یوه دوره دپښتو دنومهالي شاعرۍسیستماتیکه او منظمه کره کتنه پیل کړې وه ، زه همدلته په پوره جرئت اعتراف کوم ، چې زما هغه کار نیمګړی و، داکار مې له نن

ځخه پوره څوارلس کاله پخوا بشپړ کړی و ، چې زما تجربه او پوهه لا ډیره نیمګړې وه ، خو بیاهم هغه مهال له تاوده هرکلي سره مخامخ شوه او څو معتبرو مجلو یې پرلپسې خپرول دیوه امتیاز په توګه وغوښته ، دا لړۍ بیا وروسته ( دورپېښمو تول) په نامه زما یوکتاب شو، چې اوس نایابه دی . تر دې ورهاخوا ما پر ځینو داستاني اثارو هم تحلیلي کره کتنې کړې دي ، دښاغلي اسدالله غضنفر پر ( غوښنه ) کیسه زماکره کتنه ( غوښنه او چاړه ) څوځلي خپره شوه او ( دتولستوی اناکارنینا او دژرژسان ولانتین ) پرتلیزه کره کتنه مې هم داویایمې لسیزې په پای کلونوکې خپره کړې وه ، زما ( اروایي ښامار) پخپله یوه څېړنیزه کره کتنه ده چې دپوهاند بهاءالدین مجروح پر ادبي اثارو مې کښلې ده ، زما خوښېږي ، چې هرکله پرممتازو ادبي اثارو بېلګه یي کره کتنې وکاږم ، چې هراړخیزه کره کتنه دود شي، خو له ډیره بده مرغه چې دګڼو بوختیاوو له امله دغې هڅې ته ډېر وخت نه مومم .

ها ! ستاسو دپوښتنې دبلې برخې په اړه ؛ دخپلو لیکنو په اړه مې هېڅکله دلیکلې کره کتنې هڅه نه ده کړې ، ځکه زه چې کله خپلې پخوانی لیکنې بیا ګورم ، نو په پوره بېرحمۍ ورسره چلند کوم ، هومره چې لیکلای یې نه شم .

پوښتنه : ځینې کره کتونکي د داستاني شخصیتونو د (روانکاوی) په اړه مخالف دریځ لري، پدې دلیل چې داستاني شخصیتونه ریښتیني څیرې نه دي، لدې کبله د څیړنې او پلټنې وړ یې نه بولي. تاسي په دې تړاو څه فکر کوئ؟

ځواب : د کیسي هر کرکټر یو حقیقي ادبي ـ هنري شخصیت دی ، چې رواني پېښې او د شخصیت څرنګوالی یې خورا مهم دي ، هرڅوک چې په یوه تخلیقي اثرکې د شخصیتونو له روانکاوي سره مخالف وي، نو ډاډه یم ، چې په اهمیت اوارزښت یې نه دی خبر.

د داستانونو کرکټرونه په حقیقت کې د لیکوال دشخصیت او روان دځینو برخو استازیتوب کوي ، د داستانونو پېښې او حوادث به تخیلي وي ، خو د کرکټرونو رواني څرنګوالی یې هرومرو د لیکوال د روان اوتفکر په حقیقت کې ریښه لري ، ځکه خو دې اړخ ته د کره کتونکي پام ساتل خورا مهم ګڼم .

پوښتنه : له بده مرغه تر اوسه موږ د ادبي کرکتنې د تدریس او زده کړې په برخه کې پاملرنه نه ده کړئ او له بلې خوا پدې برخه کې د باوري او علمي منابعو نشتوالی بې امني او جګړه یز ناتار او له دغې حالت څخه د پردیو ناوړه ګټه اخیستنه د دې لامل شوي چې ځینې تش په نامه ادبي او فرهنګي تولنې او مرکزونه رامنځته شي چې پدې برخه کې د ځینو پروګرامو او فرهنګي غونډو په جوړولو سره خپل ځانونه متخصصین بولي دغه دروغجن متخصصین د څیرلنو پر ځای د هیواد پر غوره اثارو باندې د تش

کره کتني پر نامه د هنري اثر په جزياتو ډېره لګوي او خپل ګډوډ او زهرجن استنباط وړاندې کوي د اثر منځپانګې په نظر کې نيولو پرته خپل ځانګړې ذوق او کله هم سياسي تمايلات پکې ډاګيزه کوي، د سياسي او اخلاقي جاج اخيستنې سره د يوه ليکوال ځانګړې ژوند په همدې موخه په پام کې نيسي. تاسې پدې برخه کې څه ليد لرئ؟

ځواب : هو ! ستاسو تحليل بيخي سم دی ، زه دادبياتو ديوه شاګرد په توګه ددې شاهد يم ، چې زموږ په ادبپوهنځي کې دکره کتنې متخصص استادان ، له نړيوالو او نويو پرمختلليو ستندردونو سره سم تدريسي پروګرام ، وړ سرچينې او کتابونه نشته. په ادبي محافلو کې هم دې لوړ ارزښت ته پام نه ساتل کيږي ، هاغه غونډې هم چې دمخکتنو او يادغونډو په نامه ياديږي ، ډېرې يې په ستاينو اوکله په غندنو پای ته رسيږي.

ددې لپاره چې پرمختللې معياري کره کتنه دود شي ښايي دادبي کره کتنې تدريسي نصاب نوی شي ، متخصص استادان يې تدريس کړي، په پوهنځيو کې عملي کره کتنه تمرين شي ، په نړيوال کچ بريالی کره کتنې ولوستل شي او بيا وروسته دخو بريااليو اوريښتينو کره کتنو ټولګه ددې لپاره خپره شي ، چې ځوان ليکوال او کره کتونکي يې ميتودولوژي زده کړای شي.

پوښتنه: ځينې بيا د هيواد د داستان ليکنې له بهير څخه بې خبره دي د دوی نظريات د هغو معلوماتو پر بنسټ ولاړ دي چې نورو د خپلو سياسي او عقيدتي دريځ له مخې وړاندې کړي دي. د بيلګې په توګه ځينې وايي : موږ (رومان) نه لرو پداسې حال کې چې « خوشه های خشم» د ( اشتاين بک) اثر، «پلی بر رودخانهٔ درينا » ( د نوبل جايزې ګټونکي د ايو آندريچ اثر)، «رود بار آهن» د ( سيرافيموويچ) اثر، «زنګها برای کی به صدا درمی آيند» د ( ارنست همينګوی) اثر، په څير زموږ ليکوالو هم د نړی د ليکوالو په سطحه په لوړه کچه رمانونه ليکلي دي او زيات لوستونکي هم لري د بيلګې په توګه د ښاغلي ببرک ارغند د (لبخند شيطان) تاريخي رمان او يا (سفر پرندګان بی بال) چې د زياترو نظر خاوندانو له خوا د يوه غوره او تلپاتي اثارو په توګه څيړل شوي دي، خو له بده مرغه د هيواد په د ننه کې د دغو اثارو د چاپ او تکثير په اړه هيڅ ګام نه دی پورته شوی، خو بيا ځينې ټولنې او محافل چې د ګاونډيو موخې او هدفونه تعقيبوي زموږ غوره او نامتو اثار بابيزه بولي او ناوړه مو غوره ګڼي. تاسې د دې مسلې دليل په څه کې وينئ؟

ځواب : موږبه ښه اثار لرو ، خو له بده مرغه دلته دلوست ، ارزونې ، پرتلنې ، ژباړې ، او نازولو کمی ددې لامل ګرځي چې ممتاز ادبي اثار ( که شعروي که نثر) هستيږي، يو څو کسان يې لولي او بيا هيريږي ، دا ټولنيزه ستونزه ده . افغانستان د Readership يا لوست ( مطالعې - قرائت ) له نظره دنړی په خورا وروسته پاتې هيوادونو کې دی ،

دلته دلوړ تیراژ شمېر زر ټوکه دی ، نو فکر وکړئ ، چې لوست څومره دی ؟ زما اوستا په هېواد کې لیکل او لوستل ( ګټه ) نه راوړي ، نو څوک سر نه پرې خوږوي . دا د (ګابریل ګارسیامارکز) هېواد نه دی ، چې خلک یې دنوي کتاب دڅړ خپراوي لپاره دکور ترشا راغونډیږي او زرګونه کسان ورځخه غوښتنه کوي ، چې دخپل نوي رومان کار ژر بشپړ کړي ، ځیني خلک یې دنوي رومان لیکلې برخي په هغو لویو بېلبورډونو کې لولي ، چې دښار پرڅلورلارو لګول شوي دي ، دا د (جی . کې . رولینګ) هېواد نه دی ، چې لیکوالي به هر سهار سلګونه لیکونه ترلاسه کول چې خلکو به یې دکتابونو داتلانو په اړه ورته لیکلي وو.

دلته، ستاسو ترټولو ستر شاعر یا کیسه لیکوال باید دیوې مړۍ ډوډۍ لپاره چیرته مزدوري یا منشي توب وکړي ، چې بیا لیکلو ته وخت ومومي او ګېډه یې وږې نه وي ، نو پایله اخلو چې نه افغانستان د ( همینګوې ) هېواد دی او نه به یې دلیکوال کیسه د (کړنګاني دچالپاره کړنګیږي ) ځای وموميي .

پوښتنه: د (پهلوان مراد .... ) رمان د دریم ځل لپاره په کابل کې د چاپ په ګانه سمبال شو. دغه رمان زیات مینه وال لري. تاسي دا اثر څه ډول ارزوئ؟

ځواب : (پهلوان مراد واسبې که اصیل نبود) مې ډېر پخوا لوستلی و، ښايي دښوونځي په لسم یا یولسم ټولګي کې به وم ، ځکه خو مې حافظه ډېره مرسته نه راسره کوي ، چې اوس یې بشپړه ارزونه وکړای شم . هغه څه مې چې په یاددي ؛ داستان دافغاني ټولنې طبقاتي توپیر رانښيي ، دهېواپه شمال کې دوزلوبې ، کلیوال او ښاري ژوند په زړه پورې انځورونه لري او هغه څه یې چې هغه مهال ماته ډېر په زړه پورې و، د یوه اس Personification یا شخصیت جوړونه ده ، چې په ډېرځواک سره هغه عاطفه تمثیلوي چې دده او دخاوند ترمنځ یې شته ، زما یې دهغې شیبې تصویر تل په ذهن کې شته چې کله یې قصاب ته سپاري نو له خپل ناتوانه او ژوبل خاوند سره په سترګو کې خبرې کوي او غواړي داد ورکړي .

پوښتنه: زموږ د ادبیاتو په تاریخ کې ( فیمینیستی ) اثار په کومه کچه کې دي؟ او ولې دغه ډول اثار زموږ په هیواد کې له بې پروايې سره مخامخ دي، پداسې حال کې چې موږ د سیده حسینه ګل، تورپیکی قیوم، صفیه حلیم، شیما غفوري، نیلاب موج سلام، او پروین پژواک په څیر زیاتې لیکوالې لرو. ایا ستاسې په نظر دا په هیواد کې د نارینه و د واکمنې لامل دی او که پدې برخه کې کوم بل لید لرئ؟

ځواب : موږ او تاسو دیوه نرواکي اومذکر تاریخ مولود یو ، چې دخپل تاریخ پاڼې راواړوې نو یا وینې ورځخه رابهیږي ، یا دکله مناورونو ځلي په کې ښکاري ، چې تاریخ

ګورې نو دنارینه وو لښکرې دي ، چې له تورو اونیزو سره لروبرکیږي ، دښکلا ، مینې ، عاطفې ښځینه غړونه په کې ډیر لږ دي تر همدې څولسیزو مخکې ستا دهېواد ښځینه شاعراني یا ( مخفي ) ګڼل کیدې یا ( محجوبه ) یا هم ( مستوره ) . لرغونې رابعې له دې ویرې چې دمینې تور پرې ونه لګیږي، دټولنې له ویرې په حمام کې خپلې وینې وبهولې، داهغه ټولنه ده چې نارینه یې په وژلو او وهلو نه شرمیږي ، خو ښځې یې له دې ویرې ځانونه وژني چې د(مینې) توریږې لګول شوی دی . دلته بېرحمي ، وژل او وهل دغیرت په مانا ده او مینه او عاطفه بېغیرتي ګڼل کیږي. ځکه خو په مدونو ادبیاتو په تیره بیا داستاني ادبیاتو کې دښځې حضور ، دهغوی مینه او عاطفه ، ښکلا او غوښتنې قدغن ګڼل کیږي . یوازې په لنډیوکې ( چې ویوونکې یې څوک نه پیژني ) دښځو هراړخیز حضور ، دمینې ، ښکلا ، هوس ، غوښتنواو محرومیتونو پریمانه جلوې مونډلای شئ .

پوښتنه: په یوه ټولنه کې چې د ګروهو(عقایدو) او فرهنګ سانسور وي، ستاسې پراند پر شاعر، داستان لیکونکي او لیکوالو څه نقش واغیز درلودای شي، څه ډول مبارزه ورته په کار ده ؟

ځواب: روښانفکري ( نه ) په کارده ، چې دا ټول بوتان راونړوي او د ( ازاد افغان انسان ) غړ پورته کړای شي .

دروښانفکرانه ( نه ) مفهوم هغه وخت راوځلیده ، چې د دودونو او نوښت ( مډرنیتي ) تقابل د انسانانو د ژوند پر شرایطو محسوس شو .

موږ لا روښانفکران نه لرو ، نو د روښانفکري ( نه ) غږ به له کومه شي ، ترهرڅه وړاندې د یوه افغاني رنسانس په پایله کې ښایې یو افغاني روښانفکري نهضت رامنځته شي ، چې د یادو سانسورونو مخه ونیولای شي .

پوښتنه: یو شمیر شاعرانو او لیکوالو د خپلو څیړنیزو اونوښتګرو کارونو او فعالیتونو لپاره د بهرنیو لیکوالوآثاراوشعرونه ژباړلي دي. ستاسې پر اند د بهرنیو آثارو ژباړه او یا زموږ د آثارو ژباړه په نورو ژبو کې د پښتو ادب و فرهنګ د ودې او پرمختګ لپاره څومره ارزښتناک او ګټور بولئ؟ او دا راته وویاست چې د یو ښه متن په ژباړه کې کومو بنسټیزو اصولو ته باید پاملرنه وشي؟ ایا تاسې یکې ونده اخیستې او که نه؟

ځواب:ژباړه هغه پول دی چې ستاسو فرهنګ له نورې نړۍ سره تړي ، موږ چې دژباړې په کمزورتیا او ان کله کله په تشه اخته یو دهغې لرې پرتې ټاپو په څېر یو چې دنورې نړۍ وهمي تصور او مبهم غړونه له لرې څخه اورو ، خو هغوی پیژندلای نه شو او نه هم ځان وروپیژندلای شو . راځئ دارواښاد کشککي له ژباړې ( په پټه دپټوپلټنه ) څخه یې راونیسو تر نن پورې مو دنړۍ دېیلابېلو ژبو څومره ستر شهکارونه راژباړلي

دي ؟ دګوتو په شمېر . خپل مو څومره دنړۍ نورو ژبو ته ورژباړلي ؟ ښايي هيڅ يا ښايي يوازې څو. ترهغو چې دژباړې يو ملي غورځنګ رامنځته نه کړو نه په نړۍ پوهيدلای شو او نه هم ځان ورپيژندلای شو . دژباړې لپاره ترټولو لوی اصل په دواړو ژبو بشپړ حاکميت دی ، چې دبلې ژبې اثر په حقيقت کې له سره په خپله ژبه کې ( هست) کړي . دا په دې مانا چې ژباړه يوازې را اړونه نه ، بلکې خلاقيت هم دی .

ما دژباړې يوه هڅه کړې وه ، دخپل اروابښاد درانه استاد اسد اسمايي په مرسته مې دنړۍ ستر شهکار ( دټرای ښځې ) چې يوناني يوروپيدس منظوم کړی و، په پښتو شعر راژباړلی دی ، چې له نيکه مرغه خپره شوې هم ده . تر دې هاخوا مې داروابښاد استادمجروح د (اژدهای خودي ) دپاتې ټوکونو منظومه ژباړه هم پيل کړې ده ، چې له بده مرغه دوخت دکمي له امله ډېرپرمخ نه يم تللی ، هيله ده يومهال يې بشپړه کړای شم .

تردې ورهاخوا مې لا بل داسې دپام وړ کار نه دی کړی .

پوښتنه: ستاسې له انده زموږ دهيواد د هنر، ادب او فرهنګ د ودې او پرمختګ په لاره کې کومې ستونزې او خنډونه پراته دي. آيا زموږ ليکوال، رسنوال( ژورناليستان) کولای شي د دغو ستونزو او خنډونو پر وړاندې مبارزه وکړي؟

ځواب: ستونزې خو ډيرې دي ، بيخي ډيرې ... خو زه يې يودوه لويې درته شمارم ، لومړی لويه ستونزه چې هم سياسي ده هم اقتصادي او هم فرهنګي هغه زموږ ټيټ ټوليزشعور دی .لکه مخکې مې هم چې وويل : موږلاهم فکر نه شو توليدولای ان چې لافکر مصرفولای هم نه شو .

موږ يوه بېوزله ټولنه يو ، لامو دخپلو مادي او معنوي سرچينو سم کارول نه دي زده کړي او فرهنګ مو دغيرت دخولاپو او ځانستاينو مجموعې ته ورته دی ، چې د ( انسان) وجود په کې په سختۍ موندلای شئ ، زموږ فرهنګي هڅې هم دسياسي او تاريخي هغو په څېر انسانمحوره نه دي . وياړ محوره ، غيرتمحوره او تاريخمحوره دي . موږ هغه کمزوری وجود يو چې دنړيوالتوب له چټک کاروان سره مزل نه شو کړای ، ځکه نوددې کاروان تر پښو لاندې پراته يو او ددې کاروان په هياهيو کې مو څوک چيغې نه اوري ، زموږ ادبيات دکاروان ترپښو لاندې شوي د يوه کمزوري وجود ځګيروي او چيغې دي ، چې نړيوال يې نه شي اوريدلای .

پوښتنه: تاسې د يو شاعر، ليکوال او آزمويلي رسنوال په توګه زموږ د هيواد ځوان ليکوال پښت ته د شعروشاعرۍ او داستان ليکنې په برخه کې کومې سلا مشورې ورکولای شئ او وړانديزونه مو ورته څه دي؟

ځواب: ډیر لنډ به یې درته ولیکم : ( افغان انسان ) دې دخپلو ټولو هڅو په مرکز کې راولي . تر دې وروسته هرقلم باید پر دې ستومانه کړو چې :

افغان انسان څه ستونزې لري ؟

افغان انسان ولې وږی ، لوڅ او بېکوره دی ؟

افغان انسان دنړۍ له نورو انسانانوڅخه څه کم دی ، چې دهغوی په څېر دانساني ژوند ښه شرایط نه لري ؟

افغان انسان ولې ځوریږي ؟ رواني ستونزه یې څه ده ؟ تاریخي عقدې یې کومې دي ، ولې په بېرحمۍ محکوم دی ؟ ولې ترټولو ډیر په انسانوژنه ( هغه هم خپل هېوادوال وژلو) بوخت دی ؟ عاطفه ورڅخه چیرې تللې ؟

افغان انسان ولې پرمختګ نه شي کولای ؟ ولې مینه نه شي کولای ؟

د افغان انسان دننه څه تیریږي ؟ ولې تیریږي او څنګه به له دې رواني مخمسې څخه ځان وژغورلای شي ؟

اوبالاخره د افغان انسان دژغورنې ، وینېتیا ، روښانتیا ، راپاڅولو ، متشکل کولو او دده دانساني ژوند دشرایطو دښه کولو لپاره څه کول په کاردي؟

په یادمو وي چې زه ادبیات نه شعاري کوم ، بلکې غواړم انساني ، عیني اومثبت بدلون راوستونکي شي .

پوښتنه: ګران لیوال صاحب ستاسې ټولې لیکنې او ادبي آثار د خورا ستاینې اودرناوي وړ دي، خو هغه آثارمو، چې مینه والو ډیر خوښ کړي وي، راته په ګوته کړئ؟

ځواب: دا ډیره سخته پوښتنه ده ، نه پوهیږم ، خو چې څومره مې اوریدلي دي ، زما آزاده شاعري او درېګوني منظومې ( هوسۍ ) ( ارشاک او اوشاس) ( لام او ایلینو) ډیرې لوستل شوي دي او ډیرو لوستونکیو ته یې پیښې په یاددي ،چې فکر کوم دلته به دیوه بریالي ادبي اثر ځانګړنه وي.

زه ستاسو قدرمن، هڅاند او ګران دوست لیوال صاحب څخه د زړه له کومې مننه کوم چې یو ځل بیا مو زما پوښتنو ته پوره او کره ځوابونه راکړل. ستاسو د خوشالیو، نیکمرغیو او بریاوو په هیله.

## په ډیردرنښت اوادبي مینه : انجنیرعبدالقادرمسعود